د مَدَنِي مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 9 اکتوبر، کال 2026ء (بمطابق: 26 ربیع الآخر، کال 1448ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

پۀ نوم

توبه ستاسو د پاره بهتره ده

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---د خاورو نه سرۀ زر جوړ شول---!! (واقعه)
- ---پۀ توبه کښې د تاخیر وجهې
- ---توبه عبادت دے
- ---آیا عزت بیا نۀ مېلاؤېږي---؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيِّن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

د دُرُود شريف فضيلت

د اَربعينِ عطّار، قسط: 2، صفحه: 5، حديثِ پاک نمبر: 5 دے:

اِجْعَلُوْنِيْ فِيْ وَسْطِ الدُّعَآءِ وَفِيْ اَوَّلِهٖ وَفِيْ آخِرِهٖ

ترجمه: ما د دُعا پۀ مينځ، شروع او پۀ اخره کښې ساتئ۔ (1)

شرح: يعنې تاسو پۀ ما باندې د خپلې دُعا پۀ شروع کښې، مينځ کښې او پۀ اخره کښې درود وائئ۔

بِالْيَقِيْن سب سے افضل و اعلیٰ
وہ دُعا مُسْتَجاب ہوتی ہے
طاعتیں سب اُسی سے ہیں مَقْبُوْل

ذکرِ شاہِ اُمَم درود و سلام
جس میں ہوتا ہے ضَم درود و سلام
طاعتوں میں اَتَم درود و سلام

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

1... مصنف عبد الرزاق، کتاب الصلاة، باب الصلاة على النبي، جلد:2، صفحه:141، حديث:3122۔

وَاِذْقَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْۤا اِلٰى بَارِىِٕكُمْ فَاقْتُلُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِىِٕكُمْ ؕ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۴﴾

(پاره: 1، سورۂ بقره: 54)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او یاد کړئ چې کله موسیٰ خپل قوم ته ووئیل: اے زما قومه! تاسو د سخي (د معبود) جوړولو پۀ وجه پۀ خپلو ځانونو ظُلم اوکړو، ځکه (اوس) د خپل پیدا کوونکي پۀ بارګاه کښې توبه اوکړئ (داسې) چې تاسو خپل خلق مړه کړئ- دا ستاسو د پیدا کوونکي پۀ نزد ستاسو د پاره غوره دي، نو هغه ستاسو توبه قبوله کړه، بے شکه هُم هغه ډېر توبه قبلوونکے مهربانه دے-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه اورېدلي وو چې الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام کوهِ طُور ته اوبللو، هغوئي ته يې تورات شریف عطا کړلو، پۀ دغه وخت د وروستو نه بني اِسرائیلو یو سخے جوړ کړو او د هغه پۀ عبادت کولو کښې مشغول شول- بیا چې کله بني اِسرائیلو دا لویه ګناه اوکړه نو پۀ هغوئي باندې کرم دا وشو چې پۀ هغوئي باندې عذاب نازل نۀ شو بلکې د توبې توفیق ورکړے شوے- د هغوئي دا توبه څنګه قبوله شوه؟ د دې توبې تقاضې څنګه پوره کړے شوې؟ د دې خبرې بیان پۀ دې آیت مبارک کښې دے، کوم چې نن زمونږه موضوع ده، دا د سورۂ بقره آیت: 54 دے، نن به مونږه اِنْ شَآءَ اللّٰه الْكَرِيْم! د دې آیت مبارک وضاحت او د دې نه د مېلاؤېدونکو سبقونو د زده کولو سعادت حاصلوو-

د آیت مبارک مختصر وضاحت

الله پاک اِرشاد فرمائي:

وَاِذْ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او یاد کړئ۔

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 54)

یعني اے خوبرو محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو هٰغه واقعه رایاده کړئ! او د خپلې زمانې بني اِسرائیلو ته یې وریاده کړئ! کومه واقعه؟

قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: چې کله موسیٰ خپل قوم ته ووئیل۔

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 54)

یعني هٰغه واقعه کله چې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام خپل قوم ته وفرمائیل۔ په دې ځائے کښې د قوم نه مُراد د بني اسرائیلو هٰغه خلق دي، کومو چې د سخي عبادت کړے وو، کوم چې د شِرک نه محفوظ وو، هغه ترې مُراد نۀ دي۔[1] حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هغوئي ته وفرمائیل؟

یٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْۤا اِلٰى بَارِىِٕكُمْ فَاقْتُلُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِىِٕكُمْ ؕ فَتَابَ عَلَیْكُمْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ﴿۵۴﴾

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے زما قومه! تاسو د سخي (د معبود) جوړولو په وجه په خپلو

1... تفسیر طبری، پارہ: 1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت: 54، جلد: 1، صفحہ: 326، حدیث: 938 خلاصۃً۔

ځانونو ظُلم اوکړو، ځکه (اوس) د خپل پېدا کوونکي پۀ بارګاه کښې توبه اوکړئ (داسې) چې تاسو خپل خلق مړه کړئ- دا ستاسو د پېدا کوونکي پۀ نزد ستاسو د پاره غوره دي، نو هغه ستاسو توبه قبوله کړه، بے شکه هُم هغه ډېر توبه قبلوونکے مهربانه دے-

(پاره: 1، سورۀ بقره: 54)

يعنې اے زما قومه! تاسو د سخي پۀ عبادت کولو ډېر لوئي شِرک کړے دے، اوس تاسو د خپلې دې ګناه نه توبه وکړئ! د دې توبې طريقه به دا وي چې هغه خلق کومو چې د سخي عبادت نۀ وو کړے، هغوئي به د سخي عبادت کوونکي وژني- دا وژل به ستاسو د بخښنې ذريعه جوړېږي، د دې پۀ نتيجه کښې به تاسو د اخرت د عذاب نه بچ شئ- اے زما قومه! دا کار اوکړئ! دا د الله پاک پۀ نزد ستاسو د پاره بهتر دے، د دې پۀ برکت سره به الله پاک ستاسو توبه قبوله کړي، بے شکه الله پاک بخښونکے، مهربانه دے-

پۀ روايتونو کښې دي چې بني اِسرائيلو د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دا خبره ومنله، داسې د سحر نه د مانښام پورې 70 زره بني اِسرائيل ووژلے شو- بيا حضرت موسیٰ او حضرت هارون علَيهِما السَّلام پۀ ژړا ژړا پۀ بارګاهِ حق کښې د هغوئي د معافئ خواست اوکړو- پۀ دې باندې وحي راغله چې کوم ووژلے شو هغه شهيدان شول او باقي وبخښلے شول، قاتلان او مقتولان ټول جنتيان دي- [1]

د آيت مبارک نه مېلاؤېدونکي سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې آيت مبارک نه مونږ ته يو څو سبقونه مېلاؤ شول-

---

1... تفسیر طبری، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:54، جلد:1، صفحہ:326، حدیث:940938 ملتقطًا۔

(1): توبه ستاسو د پاره بهتره ده

پۀ دې آیت کښې اِرشاد شو:

ذٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِىٕكُمْ ؕ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُالعِرفان: دا ستاسو د پیدا کوونکي پۀ نزد ستاسو د پاره غوره دي-

(پاره: 1، سورۀ بقره: 54)

معلومه شوه چې ګناه پرېښودل، د الله پاک پۀ حُضُور کښې توبه کول زمونږ پۀ حق کښې بهتره ده- د دې پۀ برکت سره د دِین او د دُنیا بے شمېره خېرونه نصیب کیږي-

توبه کوونکے د الله پاک محبوب دے

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُالعِرفان: بے شکه الله د ډېرې توبې کوونکو سره محبت فرمائي-

(پاره: 2، سورۀ بقره: 222)

معلومه شوه چې کوم بنده پۀ کثرت سره توبه کوي، الله پاک هغه خپل محبوب جوړوي-

اَللّٰهُ اَكْبَر! وګورئ چې دا څومره اوچت شان دے، د الله پاک محبوب یعنې خوښ بنده جوړېدل څۀ اسان کار خو نۀ دے، دا څۀ معمولي مرتبه خو نۀ ده، الله پاک د ټولو جهانونو رَبّ دے، د ټولو جهانونو خالق دے، څوک چې د دې کریم مالِک خوښ شي، د هغه سره د څۀ کمے پاتې کېږي--؟ صوفیائے کرام فرمائي: مَنْ لَهُ الْمَوْلٰى فَلَهُ الْكُلّ څوک چې د الله پاک

شي، هر څۀ د هغۀ شي۔ [1]

معلومه شوه چې تَوبه هٰغه عظيم نعمت دے چې کوم بنده تَوبه کوي، هغه د الله پاک محبوب جوړېږي او څوک چې د الله پاک محبوب شي، د هغه دا مرتبه نصيب کېږي چې هر څۀ د هغه شي، نۀ د هغه پۀ دُنيا کښې څۀ کمے پاتې کېږي، نۀ پۀ اخرت کښې څۀ خطره پاتې کېږي۔

مَت گُناہوں پہ ہو بھائی بے باک تُو
تھام لے دَامَنِ شاہِ لَولاک تُو

بُھول مَت یہ حقیقت کہ ہے خَاک تُو
سچّی تَوبہ سے ہو جائے گا پاک تُو [2]

د خاورو نه سرۀ زر جوړ شول---!!

حضرت فضيل بن عياض رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه د توبې کولو نه مخکښې ډاکو وو، کله چې حضرت فضيل بن عياض رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه توبه کړه نو د چا چې ځاني او مالي حقونه پۀ هغوئ باندې راغلي وو، د هغوئ نه يې معافي وغوښتله- پۀ دې سلسله کښې د يو غېر مسلمه نه د معافيِ غوښتلو د پاره هغوئ لاړو نو هغه ووئيل: اے فضيله! ما قَسَم خوړلے وو چې د څو پورې تا زما مال نۀ وي واپس کړے، زۀ به تاسو نۀ معاف کووم، تاسو داسې اوکړئ چې دننه کمرې ته لاړ شئ! پۀ فلانکي ځائے کښې د پېسو تبليِ اينبودے شوې ده، هغه راوړئ او ما له يې راکړئ! داسې به زما قَسَم پوره شي، بيا به زۀ تاسو معاف کړم- حضرت فضيل رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه دننه لاړو، د پېسو تبليِ يې راوخستله، بهر راغلو او هٰغه غېر مسلمه له

1... سبع سنابل، سنبلۀ سوم در ترک و قناعت و توکل وتبتل، صفحه:92۔

2... وسائلِ بخشش، صفحه:656 ملتقطًا۔

يـې ورکړه- هغه ټبلی برسېره کړه، چې وه يـې کتل نو پۀ هغې کښې سرۀ زر وو- هغه چې دا وليدل نو وه يـې وئيل: اے فضيله! اوس ما ته کلمه ووايئ او مسلمان مې کړئ! هغوئ ورومبے خو هغوئ ته کلمه ووئيله، بيا يـې ترښه پوښتنه اوکړه: دا د ناڅاپه مسلمانېدو خيال ستا څنګه راغلو؟ هٰغه غېر مسلمه ووئيل: ما پۀ خپلو مذهبي کتابونو کښې لوستلي وو چې مسلمان کله ربښتوني توبه وکړي نو الله پاک هغه له دا مقام ورکوي چې هغه خاورو له لاس ورورې نو د هغې نه سرۀ زر جوړېږي- کله چې زۀ ستاسو د توبې نه خبر شوم نو ما ازمېښت اوکړو، دا چې کومه ټبلی مو راوړې ده، پۀ دې کښې د سرو زرو سِکې نۀ بلکې خاوره وه، کومه چې ستاسو د لاسو لګېدو پۀ برکت سرۀ زر شوې ده- [1]

جو بھی دنیا سے آقا کا غم لے گیا | وہ تو بازی خدا کی قسم لے گیا
ساتھ میں مصطفٰے کا کرم لے گیا | خُلد کی وہ سند لاجَرَم لے گیا[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا دے د ربښتوني توبې برکت--!! پۀ حقيقت کښې د خاورې نه سرۀ زر جوړېدل، دا خو د حضرت فضيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو کرامت دے، خبر! څوک چې ربښتوني توبه وکړي، الله پاک هغه ته پۀ دُنيا او اخرت کښې لوئي مقام عطا کوي-

د وِلايت اوچته مرتبه يـې نصيب شوه

د بني اِسرائيلو د يو ګس نه څۀ ګناه وشوه- هغه ډېر پښېمانه شو او پۀ نا قلاري کښې يـې اخوا دېخوا منډې شروع کړې چې پۀ څۀ طريقه دۀ هغه ګناه معاف شي او الله پاک د

1... تذکرۃ الاولیاء، ذکر فضیل بن عیاض رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ، صفحہ:8079۔

2... وسائلِ بخشش، صفحہ:656۔

هغه نه راضي شي- د الله پاک پۀ دربار کښې د هغه دا نا قلاري او پښېمانتيا قبلوله شوه او الله پاک هغه ته د ولايت ډېره اعلیٰ مرتبه صِدِّيقيت ورعطا کړله- [1]

د توبه کوونکي لوئي مقام دے

پۀ حديثِ پاک کښې دي: پۀ مخکښينو اُمتونو کښې يو قصاب [غوښه خرڅوونکے] وو- هغه د خپل کاؤنډي پۀ خادِمه باندې عاشق وو- يوه ورځ هغه خادِمه د څۀ کار د پاره بل کلي ته روانه وه، قصاب موقع غنيمت وګڼله او پۀ هغې پسې روان شو- کله چې قصاب ور ورسېدو خادمې ووئيل: اے ځوانه ! زما زړۀ هم ستا طرف ته مائله دے خو زۀ د خپل رَبِّ کريم نه وېرېږم- کله چې قصاب دا واورېدل نو وه يې وئيل: چې تۀ د الله پاک نه وېرېږې نو آيا ما له د هغه پاک ذات نه وېرېدل نۀ پکار؟ پۀ دې وئيلو هغه توبه کړه او د هغه ځائے نه واپس شو- پۀ لاره کښې هغه ډېر تږے شو- اتفاقي توګه د هغه ملاقات د يو ګس سره وشو کوم چې د يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام قاصِد (يعني پېغام وړونکے) وو- هغه نارينه قاصِد ترېنه پوښتنه اوکړه: اے ځوانه ! څۀ حال دے؟ قصاب ووئيل: ډېر زيات تږے يم- قاصِد ووئيل: راځه چې دواړه پۀ شريکه د الله پاک نه سوال اوکړو چې الله پاک د وريځې فرښتے راولېږي او هغه ښار ته د رارسېدو پورې پۀ مونږ باندې سورے اوکړي- ځوان ووئيل: ما خو هيڅ داسې ښه عبادت نۀ دے کړے، زۀ به څنګه دُعا کووم؟ تۀ دُعا اوکړه زۀ به پرې آمين ووايم- هغه ګس دُعا اوکړه، د وريځې يوه ټوټه د هغوئ دواړو پۀ سرونو باندې سورے اوکړو-

کله چې دا دواړه پۀ مزل کولو د يو بل نه جُدا شول نو وريځه د قصاب پۀ سر باندې راغله

---

1 ... كِتَابُ التوابين، توبة رجلين من بنی اسرائيل، صفحه: 81 مفصلًا۔

او قاصد ډۀ نمر پاتې شو- قاصِد ډۀ حېرانتيا سره پوښتنه اوکړه: اے ځوانه ! تا خو وئيلي وو چې ستا سره هيڅ داسې ښه نېکي نشته، بيا دا وريځه ستا ډۀ سر سورے ولې کوي؟ تۀ ما ته خپل حال ووايه- ځوان ووئيل: نور خو ما ته څۀ معلوم نۀ دي خو د يوې وينزې د الله پاک نه د وېرې ډۀ خبره اورېدو ما توبه ضرور کړې وه- قاصد ووئيل: تا رښتيا ووئيل، د الله پاک ډۀ حُضُور کښې چې کومه مرتبه د توبه کوونکي ده هغه د بَل چا نشته- (1)

د توبې يو څو فائدې

معلومه شوه چې **تَوبه** کوونکے ډېر د اوچتې مرتبې والا وي ❁ ځوک چې **توبه** کوي، د هغه کاميابي نصيب کېږي ❁ ځوک چې **توبه** وکړي، الله پاک هغه خپل محبوب جوړ کړي ❁ ډۀ هغه باندې رحمتونه ورېږي ❁ د هغه ګناهونه ختمولے شي ❁ د قيامت ډۀ ورځ به هغه ته جَنَّت عطا کېږي ❁ د دوزخ نه به يې نجات نصيب کېږي ❁ اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِيم!

دُنيا به يې هم ښه شي او اخرت به يې هم ښه شي-

ډۀ توبه کښې د تاخير وجهې

افسوس چې ❁ مونږ ډۀ غفلت کښې اوسېږو ❁ ډۀ ګناهونو کولو کولو مو زړۀ داسې بيمار شوے دے، د ګناهونو داسې عادت مو اخستے دے چې زړۀ د **توبې** طرف ته هډو مائله کېږي نۀ ❁ اورِدۀ اُمِيدونه دي، داسې سوچ مو جوړ دے چې لکه همېشه به ډۀ دې دُنيا کښې اوسېدل وي، مرګ خو به هډو راځي نۀ ❁ **الله پاک رحمان دے، وه به مو بخښي** ډۀ دې

---

1 ... کتاب التوابين، ذکر التوبين من احاد الامم الماضية، توبة القصاب، صفحه:76۔

وئیلو سره زړۀ له د دروغو تسلي ورکوو او د هغه د عذاب نه ئې وېرېږو ❁ د خرابو دوستانو ناسته پاسته مو د نېکۍ طرف ته راتللو ته ئې پرېږدي ❁ کله د کور والۏ نه شرمېږو ❁ کله د دُنیا نه شرمېږو ❁ هی! که ما **توبه** کړه نو خلق به څۀ وائي؟ د داسې خبرو پۀ سوچ کولو مونږ د **توبې** پۀ شان د عظیم نِعمت نه محرومه پاتې کېږو ❁ بلکې ربښتیا خبره خو دا ده چې مونږه ځان ګنهګاران چرته ګڼو--!! چې ځان ګنهګار وګڼو نو د شرم سره به مخ کېږو، که وه شرمېدو نو د **توبې** طرف ته تلل هم دي خو افسوس چې نفس او شېطان مونږ پۀ دوکه کښې اچولي یو ❁ نـمونځونه را نه قضا کېږي ❁ د جَمعې سره کله نا کله نـمونځ کوو ❁ هره ورځ پته نۀ لګي چې د څومره خلقو زړونه ازاروو ❁ زمونږه موبائل مونږ پۀ دوکه کښې ساتي ❁ پته نۀ لګي چې څنګه څنګه ګناهونه د موبائل او سوشل مېډیا پۀ وجه کېږي ❁ د خُلې جنګ جګړې کېږي، پۀ هره خبره کښې دروغ وایو ❁ د غیبت، چغلۍ خو داسې عادت یو چې بس خُله پرانیزو نو ګنده خبرې، غیبتونه او چغلیانې شروع شي، غرض دا چې د سر نه واخله تر د ښپو پورې پۀ ګناهونو کښې ککړ یو، د دې باوجود خپل ځان ګنهګار ګڼل نۀ خوښوو، نفس پۀ دوکه کښې اچولي یو، بس هم پۀ زړۀ زړۀ کښې دا ذِهن جوړ وي چې زمونږ نه خو بَل نېک اِنسان هډو کېدے نۀ شي- چې ځان ګنهګار ګڼل نۀ دي نو ظاهره ده چې د **توبې** ذِهن هم نۀ جوړېږي، چې ذِهن نۀ جوړېږي نو **توبه** به هډو کولے نۀ شو- داسې مونږه د دومره لوئي نېکۍ نه محرومه پاتې کېږو-

کاش چې زمونږ د توبې توفیق نصیب شي- کاش چې مونږ خپل ځان ګنهګار ګڼونکي، توبه کوونکي جوړ شو- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ۔

ګنهګار وبخښلے شو

روايت دے: چې په بني اِسرائيلو کښې دوه کسان وو، يو ډېر عبادت ګزار وو او بَل ډېر ګنهګار وو- خلقو به عبادت ګزار ته عَابِدُ بَنِيْ اِسْرَائِيْل (يعنې د بني اسرائيلو عبادت ګزار) وئيلو او کوم چې ګنهګار وو، هغه ته به يې خَلِيْعُ بَنِيْ اِسْرَائِيْل (يعنې د بني اسرائيلو لوفر او بے حيا اِنسان) وئيلو- يو ځل دا ګنهګار د هٰغه عبادت ګزار په خوا تېرېدو نو وه يې کتل چې وريځو په عبادت ګزار باندې سورے کړے دے- په دې منظر ليدو ګنهګار سوچ اوکړو چې **زۀ ډېر ګنهګار يم---!! او دے دومره لوئې عبادت ګزار دے! که زۀ د دۀ په خوا کښې کښېنم نو څۀ پته لګي چې د دې په برکت الله پاک په ما باندې هم رحم اوکړي-** په دې سوچ کولو هٰغه ګنهګار د هٰغه عبادت ګزار خوا له لاړو او کښناستو-

هلته هٰغه عبادت ګزار (کوم چې کېدے شي چې د شېطاني چلونو او د باطني بيمارو عِلم نۀ لرلو)، هغه **منفي سوچ** اوکړو او په زړۀ زړۀ کښې يې ووئيل: چرته زما په شان عبادت ګزار او چرته ستا په شان لوئے ګنهګار! دے زما سره څنګه کښناستے شي---!! په دې سوچ کولو هغه ډېر په سپک نظر هٰغه ګنهګار د ځان د خوا نه پاڅولو- په دې باندې الله پاک د هٰغه وخت نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي ولېږله او وه يې فرمائيل چې **دې دواړو ته وفرمايه چې خپل اعمال د نوي سر نه شروع کړئ، ما دغه ګنهګار (د هغه د ښه ګمان يعنې د ښه او مثبت سوچ په وجه) اوبخښلو او د عبادت ګزار اعمال مې ضائع کړل! په يو روايت کښې دي** چې هٰغه وريځې کومو چې په عبادت ګزار باندې سورے کړے وو، هٰغه وخت د عبادت ګزار نه

لرې شوې او د ګهنګار پۀ سر باندې راغلې۔ [1]

اِلٰہی میں تیری عطا مانگتا ہوں	کرم مغفرت کی دُعا مانگتا ہوں
اِلٰہی نہیں چاہئے تختِ شاہی	فقط تیری رحمت خُدا! مانگتا ہوں
بچانا بُرے خاتمے سے بچانا	میں ایمان پر خاتمہ مانگتا ہوں [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د توبه کوونکي مؤمِن مثال

یو ځل د الله پاک نبي حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د خپلو حواریانو سره تشریف فرما وو، یوه ډېره زیاته ښکلې مرغۍ هلته راغله او د هغوئ په مخکښې پۀ زمکه پۀ رغړېدو شوه، هغې خپل ځان پۀ زمکه پسې دومره ومړلو چې څرمن یې لرې شوه، اوس د هغې سر ګنجے وو او ډېره بد رنګه ښکارېدله، بیا هغه خټو ته لاړه، هلته پۀ رغړېدو شوه، د کومې سره چې هغه ډېره زیاته بد رنګه شوه، د دې نه پس هغه بهېدونکو اوبو ته کوزه شوه، هلته یې ولامبل نو مخکښینے حُسن یې بېرته راغلو، د بدن نه یې خټه هم لرې شوه، څرمن یې هم نوې راغله، بالکل د مخکښې پۀ شان شوه- د الله پاک نبي حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام چې دا ولیدل نو خپلو حواریانو ته یې وفرمائیل: دا ستاسو طرف ته یوه نخښه رالېږلے شوې ده، دا د مؤمِن مثال دے، مؤمِن بنده ګناه کوي، خپل ځان بد رنګه او سخا کړي، بیا چې کله توبه وکړي نو

1... مکاشفة القلوب، باب فی بیان ذم الکبر، صفحه:305۔

2... وسائل فردوس، صفحه:31۔

د ګناهونو تور والے د هغه نه لرې شي او هغه د مخکښې پۀ شان ښکلے او ښائسته شي۔ [1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا د توبې برکت دے، مونږ ته صرف احساس کول پکار دي، ځانله کښاستل دي او سوچ کول دي چې ❁ زۀ دُنيا ته د څۀ د پاره راغلے ووم او څۀ کووم؟ ❁ زما شپې ورځې پۀ کومو کارونو کښې تېرېږي؟ ❁ زما دا سترګې قرآنِ کريم ته د کتلو د پاره دي او زۀ پۀ دې باندې څۀ ته ګورم؟ ❁ زما ژبه د ذِکرُ الله کولو د پاره وه او زۀ پۀ دې باندې څۀ څۀ وايم؟ ❁ زما غوږونه د تِلاوت، نعت، نېکو خبرو اوريدو د پاره وو او زۀ پۀ دې باندې څۀ اورم؟ آه! وخت نزدې دے، مَلكُ المَوت عَلَيْهِ السَّلَام به تشريف راوړي، زما د بدن نه به رُوح راښکې او وړي به يې، بيا به ما تياره قبر ته کوي، آه! ما ته د خپل رَبِّ کريم پۀ حضور کښې حاضرېدل دي، بس دا احساس، پښېماني، شرم، د ربښتوني زړۀ نه توبه---! دا د ژوند د ټولو پرېشانو حل دے۔

توبه عبادت دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا خبره هم يادہ ساتئ چې **توبه** يو مستقل عبادت دے يعنې دا ضروري نۀ ده چې ګناه وي نو هله به **توبه** کولے شي، نا---!! بلکې **توبه** پخپله يو عبادت دے، که ګناه وي او که نۀ وي، الله دې کړي

چې نۀ وي، د دې باوجود **توبه** کول پکار دي۔ الله پاک فرمائي:

وَ تُوْبُوْۤا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۱﴾

[مفهوم] ترجمۀ کنزُالعِرفان: او اے مسلمانانو! تاس و ټول د الله طرف ته توبه اوکړئ پۀ دې اُمېد چې تاسو کاميابي وموميۀ۔

(پارہ:18، سورۃ النور:31)

---

1 ... حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء، جلد:6، صفحه:60۔

وګورئ په دې آیت کښې ټولو ته د **توبې** حُکم شوے دے- اِمام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **احياء العلوم** کښې فرمائي: د دې آیت نه ثابته شوه چې توبه په هر حال کښې لازم ده- [1] دا ضروري نۀ ده چې ګناه وشي نو بیا به **توبه** کوې بلکې د دې نه علاوه هم **توبه** کول پکار دي- **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** د رسولانو سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اے خلقو! **توبه** کوئ! بے شکه زۀ هم پۀ ورځ کښې 100 کرته توبه کووم- [2] وګورئ چې خوږ نبي، رسولې، هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معصوم دے، د هغوئ نه هډو ګناه نۀ شي کېدے، د دې باوجود به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ورځ کښې 100 کرته توبه کوله، معلومه شوه لکه څنګه چې نـمونځ، روژه وغېره مستقل عبادتونه دي، هم داسې توبه او اِستِغفَار هم مستقل عبادتونه دي- [3] ځکه مونږ له پکار دي چې ګناه نۀ وي نو بیا هم توبه کوو-

سُبْحٰنَ اللهِ! الله پاک دې مونږ ته د ربښتونې توبې توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سَر پچھاڑو گے پر کچھ نہ کر پاؤ گے
بے حد اپنے گناہوں پہ پچھتاؤ گے
بال جھڑ جائیں گے، کھال اُدھڑ جائیگی
کیڑے پڑ جائیں گے، نَعش سڑ جائیگی
مَت گناہوں پہ ہو بھائی! بے باک تُو
بُھول مَت یہ حقیقت کہ ہے خاک تُو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... احياء علوم الدين، كتاب التوبة، الركن الاول، بيان ان وجوب التوبة...الخ، جلد:4، صفحه:11 خلاصةً۔

2... مسلم، كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب استحباب الاستغفار...الخ، صفحه:1040، حديث:2702۔

3... مرآة المناجيح، جلد:3، صفحه:353 خلاصةً۔

آيا عزت بيا نۀ مېلاؤېږي---؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! عام طور وئيلے کېږي چې عزت بيا نۀ مېلاؤېږي- کېدے شي چې د محاورې پۀ توګه د څۀ حده پورې دا خبره صحيح هم وي، البته که د الله پاک عطاګانو ته وکتلے شي، د دِين د بزرګانو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د ژوند حالات ولوستلے شي نو معلومېږي چې که اِنسان لاره صحيح اِختيار کړي نو تلے عزت هم بېرته مېلاؤېږي- **يوه ښکلې واقعه واورئ!** حضرت حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېر لوئے کامِل ولي تېر شوے دے، د بصره ښار اوسېدونکے وو، د توبې کولو نه مخکښې هغوئ ډېر مالداره وو او خلقو له به يې پۀ سُود باندې قرض ورکولو، حال يې داسې وو چې کله به د قرضداري خوا له د قرض واپس اخستو د پاره تللو او هغه به نۀ شو ورکولے نو د هغه نه به يې د خپل وخت د ضائع کېدو جُرمانه هم اخستله ، يو ځل هغوئ د يو قرضداري خوا له لاړو، دروازه يې وډبوله، هُغه قرضدارے پخپله پۀ کور کښې موجود نۀ وو، البته د هغه ښځې ووئيل چې زما خاوند خو پۀ کور کښې نشته، نۀ زما سره پېسې شته چې تا له يې درکړم، البته نن مونږ چېلۍ حلاله کړې وه، د هغې ټوله غوښه ختمه شوې ده، سر يې پاتې دے، که هغه اخستل غواړې نو واخله، حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د چېلۍ سر راواخستو او کور ته راغلو، ښځې ته يې ووئيل: دا پوخ کړه! ښځې يې ووئيل: پۀ کور کښې لرګي نشته او نۀ بَل څۀ راشن، نو تاسو لرګي وغېره هم د قرضدارو د کورونو نه راوړئ، ښځې يې کټوئ کېښودله، لا اِينګولے [يعني ترکاري] تياره شوې هم نۀ وه چې يو سوالګرے راغلو، حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه ته يو څو خبرې اوکړې او وه يې ويستو، خوراک تيار شوے وو، هغوئ د خوراک د پاره کېناستو خو چې څنګه يې ښځې د کټوئ نه سر لرې کړو نو پۀ هغې کښې د چېلۍ د سر پۀ ځائے ټَشه وينه وه، ښځې ورته غږ اوکړو

او وه يې وئيل: وګوره ستا د کنجوسۍ نتيجې ته---!! کټوۍ د وِينې نه ډکه پرته ده-

د کټوۍ داسې پۀ وِينه کښې بدلېدل لکه چې د قُدرت د طرف نه يو خبردارے وو، کوم چې حضرت حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سنجيده واخستو او سمدستي يې د ټولو ګناهونو پرېښودو پخه اِراده اوکړه، بيا حضرت حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کور نه بهر راوتلو، پۀ کوڅه باندې تېرېدلو چې هلته لوبې کوونکي يو ماشوم بل ماشوم ته ووئيل: لرې شه! حبيب سُود خور راروان دے، هسې نۀ چې د دۀ د ښپو دوړه پۀ مونږ پرېوځي او مونږه هم بد بخته شو-

دا دوېم ګزار وو، بيا خو د حضرت حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زړۀ بالکل نرم شو، هغوئ سمدستي د حضرت اِمام حَسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خِدمت کښې حاضر شو او د ټولو ګناهونو نه يې ربښتونې توبه وکړه-

د توبې نه پس هغوئ کور ته واپس راروان وو چې وه يې کتل نو هم هٰغه ماشومانو پۀ کوڅه کښې لوبې کولې، بيا چې هٰغه ماشومانو وليدو نو يو بل ته يې ووئيل: اوس حبيب توبه کړې ده او راروان دے، لرې شئ، که چرې زمونږ د ښپو دوړه پۀ هغوئ باندې پرېوتله نو مونږ به ګنهګاران شو-

حضرت حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د ماشومانو دا خبره واورېدله نو ولړزېدو او د الله کريم پۀ دربار کښې يې عرض اوکړو: واه مالِکه! ستا قُدرت هم عجيبه دے، هم نن ما توبه وکړه او هم نن تا زما د نېک نوم اِعلان هم اوکړو-

د دې نه پس حضرت حبيب عجمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ټولو حقونه خلقو ادا کړل، د چا سره چې يې د سود لېن دېن وو، ټول يې ختم کړو او د الله پاک پۀ عِبادت کښې مصروفه شو- [1]

---

1 ... تذکرۃ الاولیاء، ذکر حبیب عجمی رَحمۃُ اللہِ علیہ، صفحہ:56 و 57 خلاصۃً۔

مَحبت میں اپنی گُما یا الٰہی!	نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی!
عبادت میں گزرے مری زِندگانی	کرم ہو کرم یاخدا! یا الٰہی![1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

معلومه شوه چې عزت ببرته مېلاؤېږي خو شرط دا دے چې اِنسان صحیح لاره اِختیار کړي- د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم سیرت لولئ! په زرګونو اولیائے کرام رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم دي کوم چې د توبې کولو نه مخکښې په ګناهونو کښې مشغول وو، په معاشره کښې به هغوئ ته ډېر په بد نظر کتلے کېدل، خلقو به د هغوئ نه نفرت کولو خو څنګه چې هغوئ **توبه** کړله، د نېکې لارې مسافر جوړ شول، په عبادت او ریاضت کښې مصروفه شول نو هم هٰغه خلق کومو چې به ترېنه مخکښې نفرت کولو بیا به یې د هغوئ د اِستعمال شوو څیزونو نه هم برکت حاصلولو- خبر! مونږ له پکار دي چې مونږ د **توبې** طرف ته لاړ شو- روزانه بے ناغې **توبه** کوو-

شېخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ چې په اوسني وخت کښې د صحیح اِسلامي ژوند د تېرولو کومه نُسخه مونږ له راکړې ده، یعنې **رساله نیک اعمال---!!** ❁ د اِسلامي وروڼو د پاره 72 نیک اعمال ❁ د اِسلامي خوئېندو د پاره 63 ❁ د وړو ماشومانو د پاره 41 ❁ د جامعة المدینه د نارینۂ طالبِ علمانو د پاره 92 ❁ د زنانۂ طالبِ علمانو د پاره 83 او ❁ د خصوصي اِسلامي وروڼو (یعنې چارې ګانو، کنو وغېره) د پاره د 27 نیک اعمالو رساله د مکتبة المدینه نه مېلاؤېږي، په دې کښې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ یو نیک عمل د

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:105 ملتقطًا۔

توبې هم ایښودے دے- یعنې هغوئ ترغیب ورکړے دے چې ګناه که وي او که نۀ وي، روزانه د شپې د اودۀ کېدو نه مخکښې دوه رکعته د توبې نـمونځ ادا کوئ، بیا پۀ ربښتوني زړۀ د ټولې ورځې د ګناهونو نه توبه کوئ- اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! ډېر برکتونه به مو نصیب کېږي- اللہ پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راکړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ۔

(2): د توبې تقاضې پوره کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اللہ پاک دا هم وفرمائیل:

فَاقْتُلُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُالعِرفان: تاسو خپل خلق مړه کړئ-

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 54)

یعنې اے د بني اِسرائیلو هٰغه خلقو! کومو چې د سخي عبادت اوکړو، پۀ شِرک کښې راګېر شول، توبه وکړئ او خپل ځانونه پېش کړئ!

د دې ځائے نه معلومه شوه چې د توبې تقاضې پوره کول هم ضروري دي- دلته چې د **توبې** کوم مفهوم اخستے کېږي، هغه دا چې ❁ غوږونو له 10، 12 ځله لاس یوسي او ووائي: **توبه! توبه!** دا **توبه** شوه-

دا **توبه** نۀ ده- د **توبې** تقاضې وي، لکه څنګه چې ګناه وي، د هغې **توبه** هم هٰغه شان وي- وګورئ چې بني اِسرائیلو شِرک اوکړو، مُرتَد شول، یعنې د مسلمانی نه پس یـې د کُفر لار اِختیار کړه، د دې جرم سزا قتل دے، ځکه هغوئ ته ووئیلے شول، خپل ځانونه قتل کړئ! د دې توبې تقاضا پوره کړئ! بیا به تاسو وښښلے شئ- معلومه شوه چې څنګه ګناه وي، هٰغه شان د هغې توبه هم وي، د هغې تقاضې هم پوره کول وي-

د توبې شرطونه

د **توبې** درې شرطونه دي: **(1): ګناه پرېښودل** چې د څۀ نه توبه کوې، هٰغه ګناه مو پرېښودې وي، د ګناه پرېښودو نه بغېر پۀ ژبه باندې **توبه توبه** وئيلو ته پۀ حديثِ پاک کښې توقې وئيلے شوې دي [1] **(2): پښېمانتيا** (يعنې چې کومه ګناه وشوه، پۀ هغې باندې پښېمانه کېدل) **(3): پخه اراده** چې بيا د پاره به ګناه نۀ کووم- [2]

دا درې شرطونه چې پوره شي نو ربښتونې توبه به ورته وئيلے کېږي- بيا د هرې ګناه بېلې بېلې تقاضې هم وي، مثلاً ❁ د نـمونځ د نۀ کولو د ګناه نه د توبې کولو د پاره ضروري دي چې د قضا کړے شوو نـمونځونو قضا هم راوړے شي ❁ د روژو نۀ نيولو د ګناه نه مو توبه کړه نو ضروري دي چې څومره روژې نۀ دي نيولے شوې، د هغې قضا هم راوړې ❁ داسې که د چا زړۀ ازار کړے شوے وي نو د هغه نه به معافي هم غوښتل ضروري وي ❁ که مور او پلار تنګ کړے شوي وي نو د هغوئ راضي کول هم ضروري دي ❁ که د چا پېسې دې خوړلې وي نو د هغې واپس کول هم ضروري دي ❁ که د سود د لېن دېن نه توبه کول وي نو چې د چا چا نه پۀ سُود کښې پېسې اخستے شوي وي، د هغې واپس کول هم ضروري دي- اوس تاسو وايئ چې دا خو ډېر ګران کار دے- آؤ جي! ګران دے- جَنَّت ته تلل دي، د دوزخ نه بچ کېدل دي، د عذاب نه خلاصے موندل دي نو څۀ سخته خو به ټېرول وي، بني اِسرائيلو ته وګورئ چې هغوئ ته ووئيلے شو چې خپل ځانونه قربان کړئ! **پۀ روايتونو کښې دي:** حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: مجرمان دې بهر راشي، پۀ زمکه دې کښېني،

1... موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب التوبة، جلد:3، صفحه:404، حدیث:85 خلاصةً۔

2... ریاض الصالحین، باب التوبة، صفحه:5۔

زنګونان دې ودروي، سر دې پۀ زنګونانو باندې کېږدي، توره دې پۀ خپله مرۍ باندې کېږدي، که چا د تورې ګزار منع کړو نو د هغه توبه به نۀ قبلېږي-

مجرمان داسې قتل شول، کوم چې مجرمان نۀ وو، هغوئي هم خپل دوستان، خپلوان پۀ خپلو لاسونو باندې قتل کړل، [1] 70 زره اِسرائيلي هم داسې قتل شول نو بيا چرته د هغوئي توبه قبوله شوه- [2]

ووايئ چې دا کار څۀ کم ګران وو---؟ پۀ مونږ باندې خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د الله پاک ډېر کرم دے، د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ برکت زمونږه توبه کول څومره اسان کار دے- بهر حال پۀ مونږ باندې لازم دي چې توبه کوو، د دې تقاضې هم پوره کوو- الله پاک دې زمونږه د ګناهونو نه معافي نصيب کړي- اٰمِيْنْ بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ـ

مجھے سچّی تَوْبَہ کی تَوْفیق دیدے
جو ناراض تُو ہو گیا تَو کہیں کا
سَدا کیلئے ہو جا راضی خُدایا

پیئے تاجدارِ حرم یا الٰہی!
رہوں گا نہ تیری قسم یا الٰہی!
ہمیشہ ہو لُطف و کرم یا الٰہی! [3]

نېک اعمال موبائل ايپلي کېشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دعوتِ اسلامي *I.T* ډيپارټمنټ د عاشقانِ رسول د اسانۍ د پاره نېک اعمال موبائل ايپلي کېشن معارفي کړے دے: پۀ دې ايپلي کېشن کښې د اِسلامي وروڼو، اِسلامي خوئېندو او طالبِ علمانو د پاره بېلې بېلې رسالې موجودې

1... تفسير بغوی، پاره:1، سورۀ بقرة، زيرِ آيت:54، جلد:1، صفحه:51 خلاصةً۔

2... تفسير درمنثور، پاره:1، سورۀ بقرة، زيرِ آيت:54، جلد:1، صفحه:158 خلاصةً۔

3... وسائلِ بخشش، صفحه:110 ملتقطًا۔

دي ❁ دا پۀ مختلفو ژبو ❁ انګرېزۍ ❁ اُردو ❁ هندۍ ❁ بنګله ❁ ګجراتۍ او ❁ سندۍ کښې اِستعمالېدے شي ❁ پۀ دې کښې د نېک اعمال مختلف سوالونه ورکړے شوي دي ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي، روزانه د خپلې خوښې وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه اخلئ، د هغې مطابق ژوند تېروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د دې پۀ برکت به د ګناهونو نه د بچ کېدو او د نېکو کولو ذِهن جوړېږي، د زړۀ پاکي به نصيب کيږي کردار به صفا، سوتره، ځلنده او ښکلے کيږي۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: د ځانله نـمونځ کولو پۀ وخت پۀ تېز اواز تِلاوت کول افضل کار دے۔

وضاحت: دا يوه د فضيلت خبره ده، مونږ له پۀ افضل باندې عمل کول پکار دي۔ بعضې وخت مونږ د شپې يواځې نـمونځ کوو، بعضې وخت وِتر ځانله کوو، که چرته جَمعه پاتې شي نو هم ځانله نـمونځ کولے شي۔ داسې نـمونځ چې کله مونږ يواځې کوو نو پۀ ورو اواز کښې قراءَت کول هم جائز دي، البته! ډېر فضيلت پۀ دې کښې دے چې پۀ تېز اواز تِلاوت اوکړے شي۔ پۀ دې کښې قاعِده دا ده چې هر هٰغه رکعت پۀ کوم کښې چې پۀ اِمام باندې پۀ ورو تِلاوت کول واجِب دي، پۀ ځانله نـمونځ کولو کښې هم پۀ هٰغه رکعت کښې هم پۀ ورو تِلاوت کول واجِب دي۔ او هر هٰغه رکعت پۀ کوم کښې چې پۀ اِمام باندې پۀ تېز اواز سره تِلاوت کول واجِب دي، پۀ ځانله نـمونځ کولو کښې هم پۀ هٰغه رکعت کښې پۀ تېز اوازسره تِلاوت کولے شي۔ مثلاً د ماسپښين او د مازيګر نـمونځ که

چرې ځانله کول وي نو په تهز اواز تِلاوت نۀ شې کولے- وِتر که ځانله کول وي نو په دې کښې په تهز اواز تِلاوت کولے شې او افضل هم دا دي- مونږ له دا افضل اِختيارول پکار دي! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! برکتونه به مو نصيب کېږي-

نوټ: داسې که په تهز اواز تِلاوت کوئ نو د دوو خبرو خيال ساتئ: (1): په ډېر تهز اواز تِلاوت مۀ کوئ، چې مناسب اواز وي چې په څۀ مشکل کښې راګېر نۀ شئ (2): په تهز اواز تِلاوت هٰغه وخت کوئ کله چې نـمونځ ادا کوئ، قضا نـمونځ په پټه کول ضروري دي، ځکه په قضا نـمونځونو کښې په تهز اواز تِلاوت نۀ دي کول پکار- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

يَا ذَا الجَلَالِ وَالاِكرَام (اے د عظمت او بزرګۍ والا!)

د هر نـمونځ نه پس 10 کرته د يَا ذَا الجَلَالِ وَالاِكرَام لوستلو سره د حلال روزګار د پاره دُعا کوونکي ته به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! حلال رزق مېلاؤ ېږي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...دارلافتاء اہلسنت، ریفرینس نمبر: NOR.12519-

2...چڑیا اور اندھا سانپ، صفحہ:25-